# رغونه

## اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د محرم الحرام ۲مه، ۱۴۴۷ هـ.ق کال
چنګاښ/سرطان ۷مه، ۱۴۰۴ هـ.ش

لومړی کال، پرله پسې ۱۹مه ګڼه



دافغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


## په دې ګڼه کې لولئ:


- هرات — کار موزاییک‌کاری پیاده‌رو در ناحیهٔ یازدهم شهر هرات با سرعت جریان دارد
- پکتیا — ګردیز ښار سرسنګ او حسنکی سیمې اوسیدونکو لپاره د کانکریټي سړک په جوړولو کار روان دی
- مزار شریف — کار طبقه سپری یا پرایم کوت فاز دوم سرک امارت آغاز گردید
- مزار شریف — قیرریزی لایه دوم سرک سه راهی حیرتان در شهر مزارشریف آغاز گردید
- پکتیا — ګردیز ښار کوچي خیلو سیمې سړک باندې د کانکریټ اچولو چارې بشپړیدو ته نږدې شوې
- هرات — کار پروژهٔ موزاییک‌کاری پیاده‌رو از مسیر جوی انجیل تا سه‌راهی نوآباد شهر هرات تکمیل شده است
- پکتیا — ګردیز ښار د خواجه حسن سیمې کلیوالي سړکونو د کانکریټ چارې ۸۵ سلنه کاري پرمختګ لري
- غزني — غزني ښار د ارباب صاحب لومړی پروژه د بشپړیدو په حال کې ده
- هرات — کار پروژهٔ آسفالت جاده شهرک رضا به هزینه تقریبی ۱۱,۵ میلیون افغانی در شهر هرات آغاز گردید
- غزني — غزني ښار شپږمه ناحیه کې د کوڅو کانکریټ چارې بشپړې شوې
- خوست — خوست ښاروالی: تفریحي غونډۍ سرسبزه او باراني اوبه مهار شوې دي
- پکتیا — ګردیز ښاروالی دوه سړکي د سړک غاړې تخریب شویو لښتیو جوړولو کار بشپړیدو ته نږدې شوی


### کار آسفالت بخش‌های باقیمانده سرک تانک مولوی الی پل جبرئیل ادامه دارد



هرات

### خوست ښار په دریمه او دویمه ناحیه کې د سړکونو د بنږ طبقې چارې پیل شوې



خوست

### قیرریزی لایه اول داغ‌گیری سرک چهارراهی فردوسی الی چهارراهی کامگار در شهر مزارشریف آغاز گردید




مزار شریف

رغونه اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


## د فراه ښاروالی له لوري د ښاري زرغونتيا په موخه هڅې روانې دي


فراه ۱

د فراه ښاروالی اړوند د سمسورتیا مدیریت لخوا ښار کې هغه ساحې چې د ورځې په جریان کې یې ګڼه ګوڼه زیاته وي د شپې لخوا یې د نیالګیو خړوبولو چارې ترسره کیږي.

فراه ښاروالی رهبری د ټولو ښاریانو څخه غوښتنه کوي، چې د ونو، نیالګیو، ګلانو او زینتي بوټو په پالنه او ساتنه کې ورسره همکاري وکړي ترڅو په راتلونکي کې د یو ښه چاپیریال او زرغون ښار شاهدان و اوسو.

## مهترلام ښار د سرسبزی مدیریت له لوري د ګلدانونو منظم خړوبول دوام لري


لغمان ۲

د مهترلام ښاروالی د تنظیف او سرسبزی مدیریت له لوري د مهترلام ښار د زرغونتیا او ښې منظرې د خوندي ساتلو په موخه، د تنظیم شوي پلان له مخې، هره ورځ د ښار په مختلفو برخو کې د سړک غاړو، څلور لارو او عامه ځایونو ګلدانونه د اوبو ټانکرونو له لارې خړوبیږي.

یاد مدیریت هڅه کوي چې د ښار زرغوني ساحې او ګلدانونه تازه او ښه وساتي، ترڅو د ښاریانو لپاره یو پاک، ارام او ښکلی چاپیریال برابر شي.

یاده دې وي چې د ګلدانونو د اوبه کولو چارې هر سهار د پلان له مخې په منظم شکل ترسره کیږي.

## شاروال نیلی ولایت دایکندی از جریان کار دو پروژه نظارت نمود

قاری خالد احمد "فضلی" شاروال شهر نیلی ولایت دایکندی از پروژه های ساخت غرفه های فلزی در داخل پارک فامیلی و ترمیم بلبورد های کلان شهری اداره شاروالی نظارت کرد.

پروژه ساخت غرفه های فلزی در داخل پارک فامیلی ۹۵٪ و پروژه ترمیمات بلبورد های کلان شهری ۱۰۰٪ پیشرفت فزیکی دارد و از عواید داخلی شاوالی دایکندی تمویل میگردد.

قابل یاد آوری است که شاروال دایکندی در جریان نظارت از پروژه ها، به شرکت های قراردادی توصیه نمود تا کار پروژه های متذکره را مطابق نقشه و احجام کاری آن در میعاد تعیین شده تکمیل نمایند.

دایکندی ۳

## کار آسفالت بخش‌های باقیمانده سرک تانک مولوی الی پل جبرئیل ادامه دارد


هرات ۴

کار آسفالت بخش‌های باقیمانده لین شمال سرک تانک مولوی الی پل جبرئیل مربوط نواحی دوازدهم و سیزدهم شهر هرات، از سوی شاروالی این شهر با سرعت ادامه دارد.

گفتنی‌ست آسفالت و احداث پلچک‌های مورد ضرورت این پروژه، به طول ۲۶۰۰متر در عرض ۱۰٫۵ متر به‌هزینهء بیش از ۴۲ میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی تطبیق می گردد.

## د مهترلام ښاروالی له داخلي بودجې د دارالمعلمین په مسیر د سړک رغنیزې چارې روانې دي


لغمان ۵

د مهترلام ښاروالی د بیارغونې پروژو له مخې، د ښار د لومړۍ ناحیې اړوند دارالمعلمین په مسیر کې د ۲۰۰ متره په اوږدوالي د سړک د رغونې چارې د مهترلام ښاروالی له داخلي بودجې پیل شوي او دا مهال یې ۱۵٪ سلنه کارونه بشپړ شوي او پاتې چارې یې د پلان له مخې په منظم شکل جریان لري.

د یاد سړک جوړېدل به نه یوازې د سیمې د اوسېدونکو لپاره د تګ راتګ اسانتیاوې برابرې کړي، بلکې د ټرافیکي ستونزو او پیښو د مخنیوي په برخه کې به هم مهم رول ولوبوي.

د یادونې وړ ده چې اوس مهال په دغه پروژه کې شاوخوا ۲۰ کسانو ته د کار کولو زمینه هم برابره شوې ده.

## شاروالی شهر چاریکار کار بازسازی یک پارک کوچک را در ناحیه چهارم آغاز خواهد کرد

شاروالی چاریکار ولایت پروان به درخواست اهالی شهر چاریکار، یک پارک کوچک را که در ناحیه چهارم شهر چاریکار طی سال‌های گذشته تخریب گردیده بود ترمیم و بازسازی خواهد کرد.

این پارک که در ناحیه چهارم، واقع سه راهی پوهنتون پروان قرار دارد امروز توسط تیم تخنیکی و مسلکی شاروالی چاریکار جهت بازسازی و ترمیم سروی گردید.

شاروالی چاریکار نظر به پلان سالانه خویش همواره در پی زیبا سازی شهر با نهال‌شانی و ساخت‌پارک‌ها می‌باشد.

پروان ۶

## کتاره‌های گلدان‌های داخل شهر چاریکار مطابق معیارها توسط شاروالی چاریکار کوتاه می‌شود


پروان ۷

کتاره‌های گلدان‌های داخل شهر چاریکار ولایت پروان که بشکل غیرمعیاری و بلندتر از معیارها ساخته شده بود توسط شاروالی دو باره مطابق معیارها و به اندازه مناسب آن کوتاه و ساخته می‌شود.

مردم و رانندگان از بلند بودن این کتاره‌ها شکایت داشتند و احتمال خطر حادثات ترافیکی داخل شهر بنابر بندش دید رانندگان ا بیشتر گردیده بود .

شهروندان چاریکار و رانندگان این شهر از اقدام به موقع شاروالی چاریکار جهت کوتاه کردن و تنظیم این کتاره‌ها ابراز خرسندی و سپاس نمودند.

## لنبکرګاه ښاروالی د مشورتي بورډ غونډه ترسره شوه



هلمند ۸

د لنبکرګاه ښاروالی د مشورتي بورډ د غونډو په تالار کې د لنبکرګاه ښاروال او د مشورتي بورډ رئیس حافظ صدیق صاحب په مشری د مشورتي بورډ پنځلس ورځنی غونډه ترسره شوه.

په یاده غونډه کې د ښاري حکومتولی امر ملا فیض الله اخند، د مشورتي بورډ مرستیال عبدالولي دراني او د مشورتي بورډ غړو برخه درلوده.

د مشورتي بورډ رئیس او لنبکرګاه ښاروال حافظ صدیق صاحب د غونډې ګډونوالو ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه: ستاسو له لوري د پیشنهاد کړل شویو یو شمېر پروژو چارې به ان شاء الله ډېر ژر پیل شي، موږ د ښار پر اساسي پروژو لکه د امنیه قومندانی د مخې سړک او د فري زون د سړک چارې عملاً پیل کړي دي. د سړکونو په مخ کې موانع مو د ښاریانو سره په تفاهم لرې کړي.

د مشورتي بورډ اړوند کمېټو خپل د کړنو راپور د مشورتي بورډ رئیس ته وړاندې کړ.

د مشورتي بورډ د کمېټو مسؤولینو د حافظ صدیق صاحب څخه مننه وکړه او په هره برخه کې یې د همکارۍ ډاډ ورکړ.

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

رغونه
اونیزه

# د ولایاتـــو او ولســـوالیو ښـــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## پاک‌سازی گسترده در ناحیه اول شهر فیض‌آباد ادامه دارد




د اوبو رسولو دغه حیاتي پروژه، چې د جوړیدو په چارو کې یې د یوې ژورې څاه کیندنـــه، اوبو لپاره ذخیره، کورونو ته د اوبو لېږد پایپونه او لمریزې برېښنا سیستم شامل ده.

دا شـــبکه هر کـــور ته د نلکې له لارې د لمریزې برېښـــنا په واسطه اوبه رسوي، چې په تطبیق سره به یې د همدې سیمې (۱۱۰) کورنۍ د پاکو اوبو د څښـــلو له نعمته برخمنې شي.

دغه پروژه چې ګڼو اســـتوګنو ته د څښـــاک اوبـــه برابروي د ســـیمې اوسیدونکي یې د کارونو په پیل خوشاله دي او وایي له کلونو راهیسې د پاکو اوبو له نعمت څخه بې برخې وو.

دغه پروژه د ملګرو ملتونو بشري اســـتوګن ځایونو دفتر یو ان هبیتات په مالي ملاتړ د ګردیز ښـــاروالۍ تر بشپړې پاملرنې لاندې ترسره کیږي، چې کارونه یې د ښـــاروالۍ انجنیرانو د بشپړې څارنې لاندې ترسره کیږي.

## جلال اباد ښـــار له دویمې ناحیې څخه د کثافاتو انتقال چارې ترسره شوې

د جلال اباد ښـــاروالۍ د تنظیفاتي خدمتونو په دوام د تنظیـــف او سرســـبزۍ امریت له لورې د ښـــار د دویمې ناحیې څخه د راټولو شویو کثافاتو د انتقال چارې ترسره شوې.

د تنظیف او سرسبزۍ امریت په چوکاټ کې هره ورځ د ښار له نهه ګونو ناحیو نه په اوسط ډول ۶۵۰ متر مکعب کثافات مناسبو ځایونو ته انتقالیږي.

د جلال اباد ښـــاروالۍ رهبري له ټاســـو درنو ښـــاریانو غوښـــتنه کوي چې د ښار په پاکوالي کې د ښاروالۍ له کارکوونکو سره بشپړه همکاري وکړئ.

جلال اباد ۱۰

## ګردیز ښار سرســـنګ او حسنکۍ ســـیمې اوسیدونکو لپاره د کانکریټي سړک په جوړولو کار روان دی

ګردیز ښاروالۍ تر بشپړې پاملرنې لاندې د ملګرو ملتونو دفتر یونپس پر مالي لګښـــت، ګردیز ښار کې لسګونو پروژو پر دوام د حســـنکۍ او سرسنګ ســـیمې لپاره د کانکریټي سړک چارې په ښه ډول رواني دي.

د ګردیز ښـــار ځلورمې ناحیې سرســـنګ سیمه کې د (۱۰۱۰) مترو په اوږدوالي دغه ســـړک د سیمې خلکو زیاتي اړتیاوې خوابوي او د سیمې بېکاره ځوانانو بوخت ساتلو کې ځانګړی اهمیت لري، چې ور سره به د سیمې مېشـــتو خلکـــو تـــه د تګ راتـــګ په برخـــه کې ګڼې اسانتیاوې رامنځته شي.

پکتیا ۱۱

## کار موزاییـــک‌کاری پیاده‌رو در ناحیهء یازدهم شـــهر هرات با سرعت جریان دارد




کار موزاییک‌کاری (انترلاک) پیاده‌رو سمت جنوب، از مقابل مســـجد جامع بـــزرگ نو آباد تـــا جاده کوچـــهء ناگهان، در مربوطات ناحیه یازدهم شهر هرات، با سرعت ادامه دارد.

این پروژه به طول بیش از ۱۱۰۰ متر از سوی دفتر یونپس به همکاری شاروالی هرات تطبیق می‌شود و تاکنون بیش از ۹۵ درصد کار آن پیش رفته‌اســـت که با آغاز این پروژه، زمینه کار روزانه برای حدود ۸۰ نفر از باشـــندگان محل فراهم گردیده است.

کارگران شـــاغل در این پروژه با ابراز رضایت از فراهم‌شـــدن فرصت‌های شـــغلی، می‌گویند که اجـــرای چنین پروژه‌هایی افزون بر ایجاد اشتغال، نقش مهمی در زیباسازی چهره شهر و سهولت عبور و مرور عابران دارد.

به گفته مســـئولان شرکت قراردادی، این پـــروژه در روزهای آینده تکمیل و به بهره‌برداری سپرده می‌شود.

## د غزني ښـــاروالۍ د څارنې او ارزونـــې د امریت کړنې دوام لري

د غزني ښـــاروالۍ د څارنې او ارزونې امریت د ښـــاري خدمتونو د لا شفافیت، موثریت او ښې تطبیق په موخه خپلې ارزونـــې او څارنې چارې پـــه پیاوړتیا سره پر مخ وړي.

یـــاد امریـــت د مولوي محمـــود "مقیم" پـــه مشرۍ په دوامداره ډول د ښـــاروالۍ مختلفـــې ناحیې پروژې او اړوندې اداري څـــارې او ارزوي ترڅو د پروژو د تطبیق څرنګوالـــی کیفیت او وختي پرمختګ پـــه دقیقه توګه وارزول شي.

څارنه یـــوازې د فزیکي پروژو پورې محدوده نه ده بلکې اداري کړنې د خدمت وړاندې کولو شفافیت او د خلکو شـــکایتونو ته رســـېدنه هـــم د یاد امریت د اســـاسي مسؤولیتونو څخه شمېرل کېږي.

تـــر دې مهالـــه یاد امریـــت د ګڼو رغنیـــزو تنظیفي او خدماتي پروژو ارزونه کړې او د ستونزو په مواردو کې یې اړوندو څانګو ته لازمې سپارښتنې وړاندې کړې دي.

مولوي محمود مقیـــم وایي موږ ژمن یو چې د ښـــاري خدمتونو کیفیت ته وده ورکړو د خلکو باور ترلاسه کړو او تولې هغه نیمګړتیـــاوې چې د پرمختګ خنډ ګرځي په وخت سره تشخیص او اصلاح کړو.

غزني ښاروالۍ د خپلو ښاري خدمتونو د شفاف او منظم تطبیق لپاره د څارنې او ارزونې امریت یو مهم بنســـټ ګڼي او له خلکو غواړي چې خپلې ستونزې وړاندیزونه او شکایتونه له دې امریت سره شریک کړي.

غزني ۱۳

## ترینکوټ ښـــاروالۍ مقام کې اداري نوبتي ناسته ترسره شوه




د ترینکوټ ښـــاروالۍ ریاست مقام کې د ترینکوټ ښاروال مولوي عبدالرشـــید هدایت الله په مشرۍ د اداري مجلس نوبتي ناسته ترسره شوه.

د غونډې په پیل کې مولوي هدایت الله ګډونوالو ته د ښـــه راغلاســـت ترڅنګ د اداري او ســـاحوي کارونو پر وخت او معیـــاري شـــکل ترسره کـــول، د امیـــر لا اطاعـــت کول، کارکوونکو ته ورسپارل شوي مسؤولیتونه په پوره ایمانداری ترسره کول او اداري کارکوونکو ته یې د وظیفوي لایحې له مخې د اداري چارو مخته وړلو خبرې وکړې.

نوموړي زیاته کـــړه چـــې د اداري کارکوونکي دې اداري کارونـــو ته لا متوجې شي؛ تر څو د مراجعینو کارونه له ځنډ او ځنډ سره مخ نه شي.

غونـــډه کې د اجنډا مطابق د ۱۴۰٤ مالي کال په پیل کې د پـــروژو په اړه د معلوماتو شریکول، د عوایدو منبع پر زیاتوالی، پر حاضرۍ پابندي، د مراجعینـــو د کارونو ژر خلاصون او یو شمیر نورو مهمو موضوعاتو بحث او خبرې وشوې.

همدارز د یاد ریاســـت د مالي او اداري چارو عمومي مدیر رحمن الله رحماني د ۱٤۰۱، ۱٤۰۲ مالي کلونو د تفتیش د راپورونـــو د اجراآتو د غوښـــتلو په مـــورد خبرې وکړې، نومـــوړي زیاته کـــړه چیې ټـــول کارکوونکـــي دې د یادو راپورونو پر وخت ځوابي اجراات ترسره کړي.

## اسعداباد ښار کې هیچاته اجازه نه ورکوو چې د توکو پلور په لوړه بیه ترسره او یاهم توکي احتکار کړي




د ولایتي ګډ کمیســـیون لخوا نن ورځ په ښار کې د خوراکي توکـــو د نرخونو او احتکار څخـــه د مخنیوي په موخه اجراات ترسره شـــو، هتیوالو ته د نرخونو د کنترول او احتکار څخه د ځان ساتنې په موخه جدي سپارښتنې او هدایات وشوو.

هتیوالو څخه وغوښتل شول چې د ښاروالۍ نرخپاڼې رعایت او د خپل سرې څخه دې ځانونه وساتي.

## کار طبقه سپری یا پرایم کوت فاز دوم سرک امارت آغاز گردید



مزار شریف ۱۶

کار طبقه اساسی سپری یا پرایم کوت سرک امارت در پارک های صنعتی ناحیه ششم شهر مزارشریف به طول ۱۴۰۰ متر و عرض ۱۴ متر با حضور استاد محمد جاوید مایار، رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف آغاز گردید.

این سرک شامل ساخت آبروها، گلدان‌های وسط، خط اندازی روی جاده و سایر جزئیات یک سرک معیاری می‌باشد که کار قیرریزی لایه اول آن نیز در روزهای آینده آغاز خواهد گردید.

رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف در جریان نظارت از این پروژه برای مسؤول شرکت قراردادی تأکید نمود که کار طبقه سپری یا پرایم کوت را به زودی تکمیل و قیرریزی آنرا آغاز نماید تا سرک مذکور در اسرع وقت به بهره برداری سپرده شده و مشکلات ساکنان محل مرفوع گردد.

مسئوول شرکت قراردادی پروژه متذکره اطمینان سپرد که کار قیرریزی سرک امارت در روزهای آینده آغاز و مطابق شرطنامه قرارداد به صورت اساسی و معیاری ساخته و در زمان معین تکمیل خواهد شد.

## انتقال زباله ها و لوش آبروهای سرک دشت شور مزارشریف آغاز گردید



مزار شریف ۱۷

به هدف ایجاد محیط پاک و عاری از آلودگی ها، انتقال زباله ها و لوش آبروهای سرک دشت شور در ساحات نواحی هشتم و نهم شهر مزارشریف توسط کارکنان آمریت تنظیف و سرسبزی شاروالی مزارشریف طی پلان منظم آغاز گردید.

الهام عطایی، مدیر تنظیف ناحیه نهم گفت: شهروندان از انداختن کثافات در سرک ها، کانال ها و آبروهای شهر جلوگیری کنند که سبب بی نظمی شهر، بندش کانال ها و تخریب تأسیسات عام المنفعه می‌شود.

همچنان شهروندان نواحی مذکور از پاک کاری و انتقال زباله و لوش آبروهای سرک دشت شور اظهار خرسندی و آنرا جهت مدیریت آب های سطحی شهر مزارشریف مهم خواندند.

## قیرریزی لایه دوم سرک سه راهی حیرتان در شهر مزارشریف آغاز گردید



مزار شریف ۱۸

به منظور رشد اقتصادی، ایجاد تسهیلات برای عبور و مرور وسایط نقلیه و توسعه معیاری شهر مزارشریف کار قیرریزی لایه دوم سرک اطراف سه راهی حیرتان الی سه مسیر آن با حضور استاد محمد جاوید مایار، رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف آغاز گردید.

پروژه مذکور شامل قیرریزی ۱۰ هزار متر مربع سرک اطراف سه راهی الی سه مسیر آن به عرض ۱۴ و ۸ متر، ساخت سه راهی حیرتان، ساخت گلدان های وسط سرک، خط اندازی، ساخت و نصب پایه های تنویر و سایر جزئیات یک سرک معیاری می‌باشد که به هزینه ۲۶ میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی مزارشریف تمویل می‌گردد.

استاد محمد جاوید مایار رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف گفت: قیرریزی سرک مذکور یکی از پروژه های بزرگ شاروالی می‌باشد که تحت نظارت هیئت رهبری و تیم انجنیری شاروالی مزارشریف به صورت اساسی و مطابق شرطنامه قرارداد تطبیق می‌گردد.

همچنان احمد بشیر غفوری انجنیر مراقبت کننده شاروالی گفت: پروژه مذکور شامل قیرریزی اطراف سه راهی الی سه مسیر آن به طول ۱۲۰ و ۱۴ و متر می‌باشد که روزانه برای ۴۰ تن زمینه اشتغال زایی فراهم شده است.

## زیباسازی پارک ها، گلدان ها و ساحات سبز در شهر مزارشریف جریان دارد



مزار شریف ۱۹

به اثر سعی و تلاش حافظ عبدالرحمن همت، شاروال شهر مزارشریف و به منظور توسعه ساحات سبز و ایجاد محیط پاک و سالم برای شهروندان کار زیباسازی و بهسازی پارک ها، گلدان‌ها و ساحات سبز در شهر مزارشریف به سرعت جریان دارد.

کار زیباسازی گلدان های وسطی سرک از چهارراهی الکوزی الی چهارراهی خبرنگاران توسط کارکنان آمریت تنظیف و سرسبزی شاروالی مزارشریف به سرعت جریان دارد و همچنان ساخت گلدان های مقابل مارکیت های تجارتی اطراف روضه مبارک رو به اتمام است.

## مهترلام ښار دویمي ناحیې اړوند د مدقق روغتون ترخنګ کثافات لرې او ویالې پاکې شوې



لغمان ۲۰

د مهترلام ښاروالۍ د تنظیف زیارکښو کارکوونکو له لوري د ښار د دویمې ناحیې اړوند، د مدقق روغتون ترخنګ سیمه کې د پاک چاپېریال د برابرولو په موخه پراخ تنظیفي فعالیتونه ترسره شول.

په دغو فعالیتونو کې، هغه کثافات داني چې د وخت په تېرېدو سره ډکې شوې وې، له کثافاتو خالي شوې او ټول کثافات یو لرې ځای ته انتقال او د چاپېریالي اصولو او مقرراتو مطابق دفن شول.

همدارز، د یادې ساحې د سرک غاړو ویالې هم له خځلو، خټو او اضافي موادو پاکې شوې، چې له امله یې د اوبو بهیر عادي حالت ته راوګرځېد او د چاپېریالي ستونزو مخه ونیول شوه.

د مهترلام ښاروالۍ مشرتابه د ښاروالۍ د تنظیف زیارکښو کارکوونکو هڅې ستایلي او له ټولو ښاریانو غوښتي چې د ښار د پاک ساتلو په برخه کې همکاري وکړي او له ښځایه کثافاتو اچولو څخه ډډه وکړي.

## د انجیل ښاروالۍ د سرسبزۍ مدیریت له لوري د ګلدانونو منظم خړوبول دوام لري



هرات ۲۱

د انجیل ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت له لوري د انجیل ښار د زرغونتیا او ښې منظرې د خوندي ساتلو په موخه، د تنظیم شوي پلان له مخې، هره ورځ د ښار په مختلفو برخو کې د سرک غاړو، څلور لارو او عامه ځایونو ګلدانونه د اوبو ټانکرونو له لارې خړوبیږي.

یاد مدیریت هڅه کوي چې د ښار زرغونې ساحې او ګلدانونه تازه او شنه وساتي، ترڅو د ښاریانو لپاره یو پاک، ارام او ښکلی چاپېریال برابر شي.

یاده دې وي چې د ګلدانونو د اوبه کولو چارې هر سهار د پلان له مخې په منظم شکل ترسره کېږي.

## د مهترلام ښــاروالۍ نوې زرغونه هڅه؛ پــه پارکونو کې د اضافي بوټو پاکولو لړۍ پیل شوه



لغمان ۲۲

د مهترلام ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت له لوري د ښــار د ښکلا، نظم او ښــې فضا د رامنځته کولو په موخه، په پارکونو کې د اضافي او بې ضرورته بوټو د ایســتلو لړۍ پیل شــوه. دغه لړۍ به په ټولو پارکونو کــې دوام ومومي ترڅو د زرغونو ساحو اصلي بڼه وساتل شي او ښاریانو ته منظم، پاک او ښکلی چاپېریال برابر شي.

یاده لړۍ نن د تنظیف او سرسبزۍ د مدیر حاجي شفیع الله نیازي او د یاد مدیریت د مامــور انجنیر ریحان الله اریان په مشرۍ، د مهترلام ښار له یو شمېر پارکونو څخه پیل شوه چې پر مهال یې هغه بوټي چې د ښــکلا مخه نیسي، یا د نباتاتو طبیعي ودې ته خنډ ګرځي، له بېخه ایستل کېږي.

د یادونې وړ ده چې د یاد مدیریت له لوري هره ورځ د پارکونو او ښــار د ټولو ګلدانونو تعقیب او نظــارت هم ترسره کېږي، ترڅو د اوبه کولو چارې یې د پلان له مخې په منظم شــکل ترسره شي.

## ګردیز ښــاروالۍ خپلو کارکوونکو لپاره الکترونیکي حاضرۍ بیا ځلې فعاله کړه



پکتیا ۲۳

ګردیز ښــاروالۍ معلومــاتي ټکنالــوژۍ او کارکوونکو چارو مدیریت، د متمدن سیســتم، ښــې حکومتولۍ او شفافیت رامنځته کولو پــه موخه، ټولو کارکوونکو لپــاره الکترونیکي حاضرۍ بیا ځلې فعاله کړه.

ګردیز ښــاروال حبیب الله اخندزاده حامــد وایي چې د یوه منظم او شفاف سیستم له مخې د ښاروالۍ ریاست د ټولو لوړ رتبــه او ټیټ رتبه مامورینو او اجیرانو حاضرۍ تعقیبېږي او په دې سره به کارونو کې لا چټکتیا رامنځته شي.

د پکتیا ولایت مقام لخوا ټاکلې کمېټې، د غوره ښــاري نظم رامنځته کولو او سړک غاړو کې بې ځایه موټر درولو مخنیوې لپاره (۲۲) بابه پارکینګونه تثبیت کړل

د ګردیز ښــاروالۍ په مشرۍ د ټاکلې کمېټې د پرېکړې په اساس، ښار کې د موټرو تم ځایونو مسؤلین مکلف دي، چې د تــم ځایونو ادرس لپــاره معلوماتي لوحو او امنیتي کامرو د نصب ترڅنګ، د پارکینګونو په احاطه کې ځلې واچوي.

له دې وروســته به د ښــاري نظم په پار ګډې کمېټې لخــوا، دغه کار ګډ تعقیــب کېږي او ټــول هتیوال او ښاریان مکلف دي، چې موټرونه خپل کار ځای ته نږدې موټرو تم ځای کې پارک کړي.



پکتیا ۲۴

## لښکرګاه ښار د هوایي ډګر د مخې ګلدان د نیالګیو وچیدو مخه به ژر تر ژره ونیول شي



هلمند ۲۵

د لښــکرګاه ښــاروال حافــظ صدیق صاحب پــه هدایت د لښکرګاه ښاروالۍ د لومړۍ ناحیې اړوند د هوایي ډګر مخ ته د ګلدان ونې چې د امراضو له امله د وچیدو سره مخ شــوي وې په عاجل ډول د وچیدو د مخنیوي لپاره اقدام ترسره شو.

د تنظیف او سرسبزۍ عمومي مدیر محمد نسیم سحر په وینا د لښکرګاه ښاروالۍ د ابیارۍ مدیریت په یاده برخه کې لاس په کار دی.

د ابیارۍ مدیــر مولوي انعام الله د یــادې موضوع په هکله داســې وویل: موږ د میدان د مخ د ناجــو ونو لپاره د زراعت ریاســت څخه د مرض د تشــخیص په برخه کــې همکاري وغوښــتله، د زراعت ریاســت د برخې د مســلکي کارکوونکو له لوري دوه ډوله درمل تجویز شول چې باید یادو ونــو ته ورکول شي. نن هغه نباتي درمــل د ټانکرونو له لارې یادي ساحې ته وړل شوي دي او ونو ته ورکړل شول.

د یادونــې وړ ده چې د ښــار د بېلابېلو برخــو د ګلدانونو او پارکونو د ابیارۍ سیستم فعال او هره ورځ نظارت ترې تر سره کېږي.

## ګردیز ښــار کوچــې خپلو ســیمي ســړک باندې د کانکریټ اچولو چارې بشــپړېدو ته نږدې شوې



پکتیا ۲۶

د ملګرو ملتونــو یونپس دفتر پر مټ ګردیز ښــار خلورمې ناحیې اړونــد، کوچې خپلو ســیمي کانکریټي ســړک د جوړېدو چارې ۹۰ ســلنه کاري پرمختګ لري او کارونه یې په ښه ډول معیار سره سم روان دي.

د ګردیز ښــار څلورمــې ناحیې کوچې خپلو ســیمه کې د (۹۰۰) متره پــه اوږدوالي او څلورنیم متره پلنوالي په لرلو دغه سړک د سیمې خلکو زیاتې اړتیاوې څوابوي او سیمې وزګار څوانانو بوخت ســاتلو کې ځانګړې اهمیت لري، چې ورسره به د سیمې مېشتو خلکو ته د تګ راتګ په برخه کې ګڼې اسانتیاوې رامنځته شي.

ولایتي ادارو ګډه کمیټه او ګردیز ښــاروالۍ تخنیکي ټیم د دې روانــو پــروژو د کار جریان څاري او کارونو د ښــه تر سراوي په موخه، اړونده شرکتونو ته د سمون سپارښتنې کوي.

## د ښــار پیاده لارو خلاصون لپاره ځانګړې کمیســیون خپل ورځنې اجراات ترسره کوي



کنړ ۲۷

د اسعداباد ښاروالۍ د ښاري خدمتونو مدیریت د څتر لاندې د ښاري نظم په موخه ځانګړي کمیسیون نن ورځ په ښار کې پــه بېلابېلو برخو کې د پیاده لارو د خلاصون په موخه کوټلي اجراات ترسره کړل، هغه هټۍ یې وترټلې کومو چې د خبرتیاوو او سپارښــتنو وروسته هم خپل اموال د پلور په موخه په پیاده رونو کې ایښي وو.

د اســعداباد ښــاروالۍ د نورو خدمتونو سربېره د ښار نظم او ډسپلین ته ځانګړې توجه کوي.

رغونه اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو ادارې لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

## کار پروژهٔ موزاییک‌کاری پیاده‌رو از مسیر جوی انجیل تا سه‌راهی نوآباد شهر هرات تکمیل شده است


هرات ۲۸

کار پروژهٔ موزاییک‌کاری یا (انترلاک) پیاده‌رو سمت جنوب، از مسیر جوی انجیل تا سه‌راهی نوآباد، مربوط ناحیه یازدهم شهر هرات به پایان رسیده و قرار است به‌زودی افتتاح و به بهره برداری سپرده شود.

این پروژه به طول مجموعی بیش از ۱۰۰۰ متر و به هزینه حدود ۷ میلیون افغانی، از سوی دفتر یونپس و با همکاری شاروالی هرات تطبیق گردیده‌است که در جریان تطبیق آن، زمینهٔ کار روزانه برای حدود ۱۰۰ نفر از باشندگان محل فراهم گردیده بود.

مدیر پروژه می‌گوید که با تطبیق این برنامه، علاوه بر فراهم سازی زمینه اشتغال، تسهیلات قابل توجهی نیز از لحاظ رفت‌وآمد برای شهروندان ایجاد گردیده‌است.

از سوی دیگر، باشندگان ناحیهٔ یازدهم شهر هرات ضمن ابراز رضایت از اجرای چنین پروژه‌های عام‌المنفعه، خواهان تداوم این‌گونه اقدامات توسعه‌ای در سطح نواحی مختلف شهر هستند.

## خوست ښار په دریمه او دویمه ناحیه کې د سړکونو د بنډر طبقې چارې پیل شوې


خوست ۲۹

خوست ښاروالی له پراختیایي بودجې څخه، چې شاوخوا ۲۹ میلیونه افغانۍ کېږي، د بابرې ګل کلینیک مخې ته د سړکونو، لښتیو او لوی کانال پروژه روانه ده، چې ۲٥٤ متره په اوږدوالي سره یې د سړکونو د جوړېدو چارو په دوام د بینډر طبقې چارې پیل شوې او د پاتې ۲۲۰ مترو کارونه به له دې وروسته پیل شي، چې د سیمې اوسېدونکو د ستونزو په هوارولو او د ښار په ښکلا کې مهم رول لري.

د یادونې وړ ده چې خوست ښاروالی په ښار کې د ښاري خدمتونو ترڅنګ د ښاریانو اړتیاوې په پام کې نیسي او هڅه کوي، چې ښاریان په یو پاک او معیاري ښار کې خپلې ورځنۍ اړتیاوې پوره کړي.

## لښکرګاه کې د قومندانی د مخې سړک د لیول کارۍ چارې جریان لري



هلمند ۳۰

د لښکرګاه ښاروال حافظ صدیق صاحب په لارښوونه لښکرګاه ښار کې د قومندانی د مخې سړک د لیول کارۍ چارې جریان لري.

یاد سړک چې د بلابلو ناحیو د اوسېدونکو لپاره زیات ارزښت لري د لښکرګاه ښاروالۍ په انکشافي بودجې سره په اساسي ډول قیریزي کېږي.

د یاد سړک د چارو څخه هره ورځ د نظارت او ارزیابی امر او د انجیری عمومي مدیریت اړوند انجنیران نظارت کوي ترڅو د سړک د رغونې چارې په ښه ډول تر سره شي، د قیرزي کولو په موخه لومړنۍ چارې چې څه موده مخکې پیل شوي وې بشپړېدونکي دي.

د یادونې وړ ده چې د لښکرګاه ښاروالۍ له لوري د روانو پروژو څخه نظارت تر سره کیږي، قراردادي شرکتونو ته لازمي سپارښتنې کیږي؛ ترڅو د پروژو چارې په لوړ کیفیت او دقت سره تر سره شي.

## شاروالی محمودراقی نهال ها و گل های ساحات مختلف را آبیاری کرد


کاپیسا ۳۱

شاروالی محمودراقی در راستای تحقق اهداف خدمت رسانی مؤثر و ارتقای کیفیت زندگی شهری همه روزه با نظم، تعهد و جدیت، فعالیت های گسترده را در بخش های مختلف شهری انجام میدهد.

در ادامه این تلاش ها امروز به منظور بهبود وضعیت محیط زیست شهری و تأمین رفاه شهروندان نهال‌های دو طرفه سرک ریگروان، گل‌های سرک سمت جنوب شاروالی، نهال های دو طرفه سرک کره تاز آبیاری گردید.

همچنان کثافات ادارات اماراتی بازار ده باباعلی و بازارصیاد انتقال و چوک گلدان جاروب و پاک کاری شد.

مسؤولان شاروالی تأکید می‌نمایند که این اقدامات به گونه دوامدار به منظور توسعه فضای سبز و تأمین محیط سالم ادامه خواهد یافت تا زمینه زندگی مطلوب برای شهروندان فراهم گردد.

## غزني ښار د څلورمې ناحیې مدیر له ښنو ساحو لیدنه وکړه


غزني ۳۲

د غزني ښاروالۍ د څلورمې ناحیې عمومي مدیر رحمت الله منصور د خپلې ناحیې اړوند له ښنو سیمو او تفریحي ځایونو څخه لیدنه وکړه.

د یادې لیدنې موخه د ښنو سیمو وضعیت ارزول د پاکوالي پر څرنګوالي څارنه او د ښاري سرسبزۍ د لا پراختیا لپاره لازمي طرحې سنجول وو.

ښاغلي منصور د لیدنې پرمهال د زرغونتیا له کارکونکو وغوښتل څو د ښار زرغونتیا ته لا زیاته پاملرنه وشي او شته ښنې سیمې په دوامداره توګه وڅارل شي.

نوموړي ټینګار وکړ چې ښاري شتمنۍ، په ځانګړي ډول ښنې ساحې، د عامو وګړو ګډ ملکیت دی او باید د ټولو له خوا پرې ساتنه وشي.

غزني ښاروالي ژمنه لري چې د ښاري چاپېریال د ښایسته کولو سرسبزۍ پراخولو او د تفریح فرصتونو د زیاتوالي په برخه کې به خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

## ترکاری فروشان سیار در مارکیت میوه و ترکاری فروشی بازار ده باباعلی توسط شاروالی محمودراقی تنظیم و جابجا گردیدند


کاپیسا ۳۳

به منظور تأمین نظم شهری، جلوگیری از ازدحام، انسداد سرک‌ها و سهولت در رفت و آمد شهروندان امروز مدیریت تنظیم مارکیت ها در هماهنگی با مدیریت ناحیه اول و مدیریت خدمات شهری اقدام به جمع آوری ترکاری فروشان سیار از سطح بازار ده باباعلی نمودند.

در جریان این فعالیت ترکاری فروشان سیار به مارکیت میوه و ترکاری در این بازار انتقال و به شکل منظم تنظیم گردیدند.

قابل یادآوری است که این اقدام با استقبال مثبت شهروندان مواجه شد و گامی مؤثر در راستای بهبود نظم شهری و ارتقای چهره بازار محسوب می‌گردد.

شاروالی محمودراقی همواره در تلاش است تا با اتخاذ اقدامات مؤثر، فضای مناسب و منظم شهری را برای شهروندان ایجاد نماید و فرهنگ احترام به نظم و مقررات را در میان اصناف و کسبه کار تقویت کند.

## ګردیز ښار د خواجه حسن سیمې کلیوالي سړکونو د کانکریټ چارې ۸۵ سلنه کاري پرمختګ لري




استاد محمد جاوید مایار، رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف از جریان ساخت یک پُل سیل بر در پارک های صنعتی مربوطات ناحیه ششم شهر نظارت نمود که در همین حال آمر نظارت و ارزیابی شاروالی و انجنیر محمد نعیم احمدی مسئوول شرکت قراردادی نیز حضور داشتند.

رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف در جریان نظارت، بر ساخت پُل سیل بر به صورت اساسی و مطابق شرطنامه قرارداد تأکید نمود و از مسئوول شرکت قراردادی خواست تا کارهای آن را در وقت معین تکمیل و به بهره برداری بسپارد.

در ادامه آقای مایار از بخش های مختلف شرکت پروسیس و بسته بندی تاک که در جوار پل سیل بر موقعیت دارد دیدار نمود و از مسئوول شرکت تاک خواست که از جاری نمودن آب های اضافی در سیل بر جلوگیری کند تا کارهای ساخت پل سیل بر در وقت معین تکمیل گردد.

## د کندهار ښار په اوومه ناحیه، دویم ګذر کې د یوې کوڅې د اساسي رغونې چارې پیل شوې دي




کندهار ښاروالی د خپلو انکشافي فعالیتونو په لړ کې دا ځل د اوومې ناحیې په دویم ګذر کې د یوې کوڅې د اساسي رغولو چارې پیل کړې.

دا کوڅه چې د میربازار سړک د سیچپ له سرک سره وصل کوي تقریبا ۵۴۷ متره اوږدوالی او ساحو ته په کتلو سره مختلف پلنوالی لري.

د دې کوڅې رغنیزې چارې یوه میاشت مخکې پیل شوې دي او پاتې کارونه به یې د ۳ میاشتو په موده کې بشپړ شي.

د همدې کوڅې د رغولو ترڅنګ د ۴۲۷ متره په اوږدوالي سره د چرې جوړول هم په اساسي ډول په پلان کې شامل دي.

په دې انکشافي پروژه کې هره ورځ ۷۲ کسانو ته د کار کولو زمینه برابره شوې ده.

## د محمودراقي ښاروالۍ د پنځه پوړیز مارکېټ پروژې د کار بهیر




د ښاري خدمتونو د ښه‌والي، معیاري سوداګریز چاپېریال رامنځته کولو او د ښاري نظم ټینګښت په موخه، د محمودراقي ښاروالۍ له لوري د پنځه پوړیز مارکېټ د جوړېدو پروژه په جدي توګه پرمخ روانه ده.

د پروژې د تطبیقي بهیر په لړ کې، نن د فاضلاب شاه د سیخ بندۍ چارې پیل شوې.

دا کړنه د حفظ‌الصحې د تأمین، د روغتیایي معیارونو مراعت او مؤثر تخلیوي سیستم د جوړښت لپاره خورا مهم بلل کېږي.

د یادونې وړ ده چې د ښاروالۍ رهبري ژمنه کوي چې دغه پروژه به د کیفیت له معیارونو سره سم، د ټاکلي مهال‌وېش له مخې بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

یاده پروژه د ښار اقتصادي وده کې، د بازار نظم او ښاري ښکلا ته مثبت بدلون راولي او د ښاریانو لپاره به یو منظم، معیاري او خوندي سوداګریز او استوګنیز چاپېریال برابر کړي.

## مهترلام ښاروالۍ د ښاري پاکوالي لپاره ۲۶ نوي کثافت دانۍ جوړوي




د پاک او منظم ښاري چاپېریال د رامنځته کولو په موخه، د مهترلام ښاروالۍ له لوري د ښار په مختلفو برخو کې د ۲۰ فلزي او ٦ کانکریټي غټو کثافت دانیو د جوړولو او نصبولو چاره ترسره کېږي.

مهترلام ښاروال مولوي رحمت الله شهامت وویل: نعمان عبدالحد رحیمي ودانیز شرکت په داوطلبۍ کې د شل فلزي او ٦ کانکریټي غټو کثافت دانیو جوړولو په موخه ۹ سوه ۱ دیرش زره افغانۍ نرخ ورکړی ؤ چې د ارزیابي کمیټې له تائید وروسته نوموړی ګټونکی وپېژندل شو او نن ورسره قرارداد لاسلیک شو.

ښاروال د قرارداد د لاسلیک پر مهال د شرکت مسؤل ته سپارښتنه وکړه چې کثافت دانۍ د کیفیت له پلوه قوي، د کار وړ او د ښاري اړتیاوو سره سمې جوړې کړي.

نوموړي زیاته کړه چې شرکت باید کثافت دانۍ د قرارداد له مخې په دوو میاشتو کې بشپړې او ښاروالۍ ته وسپاري.

د دې پروژې له تطبیق سره به د مهترلام ښار په ګڼ شمېر سیمو کې د کثافاتو د راټولولو ظرفیت لوړ شي، د ککړتیا مخه به ونیول شي او ښاریانو ته به یو پاک او روغتیايي چاپېریال برابر شي.

## د ترینکوټ ښاروال مولوي عبدالرشید هدایت الله د ولایتي روغتون سړک د داغګیرۍ چارو څخه لیدنه وکړه





د ترینکوټ ښاروال مولوي عبدالرشید هدایت الله او د نظارت او ارزیابي عمومي مدیر ملا نذیراحمد عمر د ښار د ولایتي روغتون عمومي سړک د داغګیرۍ نیولو چارو څخه لیدنه ترسره کړه.

دا چې د ښار د څلورمې ناحیې اړوند ۱،۵ کیلومتره د ولایتي روغتون دغه عمومي سړک چې د کلونو راهیسې کنډ او کړپ پاتې وو، چې له امله یې ولایتي روغتون ته د ناروغانو ورتګ ستونزمن کړی او د همدې سیمې اوسیدونکي یې د زیاتو ستونزو سره مخ کړي و. د یاد سړک تخریب شوي برخې بیا ترمیم او کانکریټي چارو د جریان څخه نظارت ترسره شو.

ورته وخت کې د ترینکوټ ښاروال مولوي عبدالرشید هدایت الله د یادو چارو څخه د لیدنې پر مهال ښاریانو ته په خطاب کې وویل؛ ترینکوټ ښاروالۍ د منظم ښار درلودل، د انکشافي کارونو دوام او ولایتي روغتون ته د ښاریانو ستونزمن ورتګ ته په کتو سره د دغه سړک داغګیرۍ نیولو چارې پیل کړې.

نوموړي زیاته کړه چې ترینکوټ ښاروالۍ خپلو عوایدو ته په کتو سره کوښښ کوي چې راتلونکي کې د دغه سړک په اساسي ډول رغونه ترسره او ښار کې ورته دا ډول نور تخریب شوي سړکونو هم ورغوي.

## د مهترلام ښار د لومړۍ او دویمې ناحیو د ویالو پاک کاري او د کثافاتو انتقال چارې ترسره شوې




د مهترلام ښاروالۍ د تنظیف زیارکښو کارکوونکو د ښاري پاکوالي او روغتیایي چاپېریال د خوندي ساتلو په موخه، د ښار د لومړۍ او دویمې ناحیو اړوند ساحو کې خپل فعالیتونه ترسره کړل.

یادو فعالیتونو کې د ویالو د پاک کارۍ، د کثافاتو راټولولو او د کثافت دانیو تشولو چارې ترسره شوې، د یادو سیمو ویالې چې د کثافاتو او خټو له امله بندې شوې وې، له هر ډول خنډونو پاکې شوې، همداراز، له ګنو سیمو څخه ډکې شوې کثافت دانۍ خالي کړل شوې او ټول راټول شوي کثافات یو لرې مشخص ځای ته انتقال او د اصولو مطابق دفن شول.

د دې فعالیتونو موخه دا وه چې د باراني اوبو د بندښت، ناولتیا خپرېدو او د ناروغیو د احتمالي خپرېدو مخنیوی وشي او ښاریانو ته یو پاک، روغ او منظم چاپېریال برابر شي.

## د خوست ولایت مقام د پېژندنې لپاره بربښنایي لوحه نصب شوه




د خوست ښاروال ښاغلي مفتي شهزاد نور راشد په هدایت، د خوست ولایت اداري کمپلکس د پېژندنې په موخه یوه عصري بربښنايي لوحه جوړه او نصب شوه.

یاده بربښنـايي لوحه د خوسـت–پکتیا پر عمومي سړک، د طویشي پل ته څېرمه د خوست ولایت اداري کمپلکس ته له عمومي سـړک څخه د ګڼېدلي سـړک مخې ته نصب شوه، چې موخه يې د یاد کمپلکس د واضح شـناخت برابرول او ښاري ښکلا ته وده ورکول دي.

یـاده لوحه نه یوازې د خوسـت ولایـت اداري کمپلکس د پېژندنې لپاره ګټوره ده، بلکې ښـاروالۍ له لوري د ښـار د عصري کېدو په لور یو بل مثبت ګام بلل کېږي او یادې لوحه ته د بربښنا د دوامداره وصل په موخه لازم تخنیکي تجهیزات هم برابر شوي دي.

## غزني ښـار د اربابا صاحب لومړۍ پروژه د بشـپړېدو په حال کې ده




د غزني ښاروالۍ ریاست او د ملګرو ملتونو د پروژې خدمتونو دفتر (UNOPS) په همکارۍ د اربابا صاحب د لومړي سړک جوړونې پروژې د کانکریـټ چارې د درې ورځو په موده کې بشپړېږي.

دغـه پروژه د کار پـه بدل کې نغدو پیسـو د برنامې تر چتر لاندې تطبیقېږي.

چې له مخې يې کارکوونکو ته د ترسره شـوې وظیفې په بدل کې نقدي پیسې ورکول کېږي.

یاد سړک د کابل ـ کندهار عمومي لارې څخه پیل او تر دولت اباد پروژې پورې ځغېږي.

دا سـړک ۶۰۰ متره اوږدوالـی ۶ متره پلنوالی او ۶۰۰ متره لښتـي لري او تمه ده چې ټولې چارې به يې د درې ورځو په موده کې بشپړې شي.

## د غزني ښـار بزازۍ سـیمه کې د شـپې پاک کاري ترسره شوه




د غزني ښــاروالۍ ریاست د ښاري نظم او نظافت په لړ کې د لومړۍ ناحیې اړوند د بزازۍ په سـیمه کې د شـپې لهخوا پراخې تنظیفي چارې ترسره کړې.

یادې چارې د سـړکونو، لښتیو او عامه سـیمو له کثافاتو او اضافي موادو د پاکولو په هدف ترسره شوې.

د لومړۍ ناحیې مدیر ډاکتر سـمیع‌الله صمیم وویل چې دا پاک‌کاري د ښاروالۍ د نظافت دوامداره پلان یوه برخه ده او د بزازۍ سـیمه د خلکـو د ګڼې ګوڼې له املـه د ځانګړې پاملرنې وړ ده.

نوموړي زیاته کړه مونږ هڅه کوو چې ښـاروالۍ ته راجع ټولې ساحې په ځانګړې ډول تجارتي او مزدحمې سیمې هره ورځ یا لږ تر لږه په منظمه توګه پاکې وساتو.

ښـاغلي صمیم وویل چې د پاک‌کارۍ دغه کار د شپې مهال په داسې ډول ترسره شو چې د ورځې له ازدحامه او ټرافیکي خنډونو پرته پاک‌کوونکو ته کافي فرصت برابر وي.

## د مزارشریف ښار ۶مې ناحیې کې د یو فرعي سړک جوړولو چارې د ۷ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوې




د مزارشریـف ښـار پراختیـا او معیاري ودې پـه موخه د مزارشریف ښـاروالۍ له خوا او د ملګـرو ملتونو د پروژوو خدمتونو د دفتر په مالي مرسـته د مزارشریف ښـار ۶مې ناحیـې ۵م ګذر کې د یو فرعي سـړک جوړولو (کانکریټ اچولـو) چـارې پیـل شـوې، چـې د بنسـټیزو چـارو په بشـپړېدو سره به يـې کانکریټ چارې هم پیل شي.

د ۵م ګذر فرعي سـړک ۶۰۰ متره اوږدوالی او ۵،۷ متره پلنوالـی لري چې هـره ورځ ۱۰۵ تنو ښـاریانو ته د کار زمینه برابره شوې.

همدارنګـه د فرعي سـړک جوړولو چارو کې د لښـتیو او پلو لارو جوړولو هم شـامل دي چې رغنیزې چارې به يې د دوه میاشـتو په موده کې بشپړې شي.

## د مهترلام ښـار د ابادۍ او سمسـورتیا په موخه د ښاروال په مشرۍ اداري ناسته ترسره شوه




د مهترلام ښاروالۍ د منظم اداري نظام د پیاوړتیا، د ښاري خدمتونو د ښــه والي او د ښـار د سـتونزو د حل لپاره د مهترلام ښـاروال مولـوي رحمت الله شـهامت په مشرۍ اداري ناسـته ترسره شوه، چې پکې د ښاروالۍ ټول امرین او مدیران حاضر وو.

په دې ناسـته کې، په پیل کې امرینـو او مدیرانو د تیرې اداري ناسـتې راپورونه او لاسـته راوړنې له ښـاروال سره شریکې کړې او همداراز یو شـمېر مهم او نوي موضوعات يې د بحث او تصمیم نیولو لپاره د ښـاروالۍ ریاست مقام ته وړاندې کړل.

